بسم الله الرحمن الرحيم

**د افغـــانستان اســلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هیواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۱۶/ رجب المرجب /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۲۸ / جدی/۱۴۰۳هـ، ش**

# د هواء د ککړتيا مخنيوی کول او د ځمکې لاندې اوبو د تقويت په موخه د جذبي ځاګانو ويستل.

الحمد لله رب العالمين و لا عدوان إلا على الظالمين و الصلاة و السلام على سيدنا محمد سيد المرسلين و إمام المتقين و على آله و صحبه أجمعين؛ أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: {وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ حَتَّى إِذَا أَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالاً سُقْنَاهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَنزَلْنَا بِهِ الْمَاء فَأَخْرَجْنَا بِهِ مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ كَذَلِكَ نُخْرِجُ الْموْتَى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ} الأعراف: (۵۷)

**معززو حاضرينو او درنو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

ستاسو توجه دوه مهمو او حياتي موضوعاتو ته راګرځوم چې يوه موضوع د هواء دککړتيا مخنيوی او بل د ځمکې لاندې د اوبو تقويه کول، چې دواړه موضوع ګانې د نظام او د ژوند لپاره اړينې دي ځکه ګټه او تاوان يې ولس او عامو خلکو ته رسيږي.

## الف: د هواء د ککړتيا مخنيوی کول:

هواء د الله تعالی هغه ستر نعمت دی چې له امله يې انسانان، حيوانات، نباتات، مرغان او حشرات ژوندي دي او پرته له هواء ژوند ممکن نه دی؛ ځکه انسانان د هواء په تنفس سره ژوند کوي ، دځمکې څخه علاوه چې په نورو سيارو کې هواء نشته هلته ژوند هم نشته.

هواء د ژوندي پاتې کيدو لپاره دومره مهمه او ضروري ده لکه د انسان په بدن کې روح، بلکې د روح بقاء هم په اکسيجن او پاکې هواء پورې تړلی دی.پرته له هوا ژوندي پاتې کيدل ناممکن دي.

د هواء په سبب مرغان په فضاء کې الوزي او له يو ځای څخه بل ځای ته منتقل کيږي او جهازونه د هواء له برکته په فضاء کې له يوې قارې څخه بلې قارې ته په ډير کم وخت کې رسيږي. د هواء په وجه لکه د غرونو په شان کشتۍ په بحر کې چليږي .

د هواء په وجه ونې لقاح اخلي لکه د خرما ونه او داسې نورې ونې.

د هواء په وسيله الله تعالی وريځې له يو ځای څخه بل ځای ته بيايي او بارانونه کوي، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:{وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَسْقَيْنَاكُمُوهُ}الحجر:۲۲

ترجمه:- او راليږلي دي مونږ بادونه بلاربوونكي (ونو او وريځو لره يا پخپله بلاربه) پس نازله كړې (لېږلې) ده مونږ له اسمان( له وريځو) څخه اوبه؛ نو وڅښولې مونږ تاسې ته دغه اوبه،

**توضيح:** هوا ګانو ته د ډيرو وجوهاتو په وجه [لواقح] وايې خو عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ددې آيت په تفسير كې وايې: (بعث الله الرياحَ ؛ لتلقيح السحاب ، فتحمل الماء ، وتمجّه في السحاب ، ثم إنه يعصرُ السحاب ، ويدره كما يدر اللقحة) . اللباب في علوم الكتاب (١١ /٤٤٥)

ژباړه:- ليږي الله تعالى هواء د وريځو د تلقيح لپاره ؛نو هواء اوبه حملوي او له وريځو سره يوځاى كوي بيا هواء وريځې زبيښي او له وريځو څخه اوبه داسې تويوي لكه څرنګه چې شيدې له لنګې اوښې څخه راتويږي.

په يو بل مبارک آيت كې راځي:{وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ وَلِيُذِيقَكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِأَمْرِهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} الروم: (٤٦)

ترجمه:- او ځينې له نښو د الله دا دي چې راليږي بادونه زيرى وركوونكي او لپاره د دې چې وڅكوي په تاسې (په سبب د دغو بادونو) ځينې (مزې) د رحمت خپل او بل لپاره د دې چې روانه شي پرې بېړى په امر حكم د الله ، او لپاره د دې چې طلب كړئ (په چلولو د بېړۍ) له فضل د الله څخه، او لپاره د دې چې تاسې شكر وباسئ (په دغو نعمتونو )

**توضيح:**په پورتني مبارک آيت كې الله تعالى د هواء د فائدو څخه يادونه كړى ده او فرمايي چې د الله تعالى له نعمتونو څخه داهم ده چې تاسو ته هواء راوليږي چې زيرى وركونكى وي( د باران) او بل داچې پر تاسې د الله تعالى رحمت وڅكوي (اوبه) او بل داچې روانې شي بيړۍ د هواء په سبب په حكم د الله ددې لپاره چې تاسې ولټوئ فضل (رزق) دالله تعالى په تجارت سره.

هواء د الله تعالى نعمت دى او دانسانانو، حيواناتو ، مرغانو او نورو موجوداتو په ژوند كې هواء د زيات اهميت له وجې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې تاسې هواء ته كنځل مه كوئ. نبي عليه السلام فرمايلي دي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَسُبُّوا الرِّيحَ فَإِنَّهَا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ تَأْتِي بِالرَّحْمَةِ وَالْعَذَابِ ». سنن ابن ماجه (٢ /١٢٢٨)

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسو كنځل مه كوئ هواء ته ، ځكه هواء دالله تعالى رحمت دى راوړي رحمت دالله (باران) او عذاب د الله.

په يو بل حديث كې شريف كې راځي: (عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَسُبُّوا الرِّيحَ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ مَا تَكْرَهُونَ فَقُولُوا: اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ الرِّيحِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ الرِّيحِ وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ» سنن الترمذي (٤ /٥٢١)

ترجمه:- د أُبى بن كعب رضي الله عنه څخه روايت دى ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسې كنځل مه كوئ هواءته كه چيرې تاسې داسې څه ووينې چې بد يې ګڼئ نو داسې ووايې: اى الله! مونږ له تا څخه د دې هواء د خير غوښتونكي يو او د هغه خير غوښتونكي يو چې په دې هواء كې دى او د هغه خير غوښتونكي يو چې امر ورته شوى دى او مونږ پناه غواړو پر تا باندې د شر ددې هواء څخه او دهغه شر څخه چې په دې هواءكې دى او د هغه شر څخه چې امر ورته كړل شوى دى.

پر مونږ مسلمانانو باندې د الله تعالى ددې نعمت شكر اداء كول فرض دي او هغه فرض دادي چې د الله تعالى صافه او پاكه هواء ككړه نكړو. اوس د ژمي موسم دى او ټول خلك دځان او اولادنو تودولو ته ضرورت لري؛ خو په دې شرط چې هواء ته كوم زيان او تقصان ونه رسوي او له هغو سوند توكو څخه استفاده وكړي چې هواء ته خطر نه پيښوي.

ځيني خلک په کورونو کې ، په حمامونوکې ، په بلند منزلو کې له داسې سوند توکو څخه استفاده کوي چې هم دوی ته زيان رسوی او هم هواء ککړوي چې له امله يې ډول ډول مرضونه په ټولنه کې خپريږي لکه د تنفس مرض، د ستونې درد او زکام، سينه بغل، د پوستکې او سترګو ډول ډول ناروغی چې اکثره ماشومان او د زاړه عمر لرونکي ورسره لاس او ګريوان دي.
نن سبا په شفاخانو کې زنانه، ماشومان او سپيين ږيري په بسترونو پراته دي چې لامل يې ناسم د سوند توکو استعمال دی.
په دې کې شک نشته چې ددغو ناروغانو د ناروغۍ اصلي عاملين هغه خلک دي چې ناسم توکې سوزوي او هواء ککړوي چې شرعاً هغه څوک چې سره د علمه د نورو د مرض او تکليف سبب ګرځي ګناهګار دی، ځکه چې نورو ته ضرر رسول لويه ګناه ده
په حديث شريف کې راځي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ» سنن ابن ماجه (٢ /٧٨٤)
ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نشته ضرر رسول ابتداءً او نشته ضرر رسول انتقاماً.
**توضيح:** د بلند منزلو خاوندان او دحمامونو مالکان د ډبرو سکرو څخه په سوند کې استفاده کوي چې دا ښکاره نورو ته ضرر رسول دي چې حرام کار دی . دوی کولای شي چې د هواء د تصفيې فلترونه نصب کړي ، ترڅو د خپل ضرر کچه کمه کړي او يا يې له منځه يوسي ، مګر دوی دا کار نه کوي او د خلکو له ژوند سره لوبې کوي.
شرعي قاعده ده چې داسې صراحت کوي: ( الضَّرَرُ يُزَالُ (الأشباه والنظائر لابن نجيم ص: ٧٢)
ژباړه:- ضرر به لرې کولای شي.
همداراز د هواء ککړول په ځمکه کې فساد کول دي او الله تعالی په ځمکه کې د فساد کولو څخه منع کړی ده. الله تعالی فرمايلي دي: الله تعالی فرمايلي دي: {وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا} الاعراف: ٥٦
ترجمه: او مه کوئ فساد (ای انسانانو!) په ځمکه کې وروسته له اصلاح ددې(د انبياوو په بعثت سره)
**توضيح:**ددې آيت څخه مراد عموم د لفظ مراددی او د هر ډول فساد څخه الله تعالی ممانعت کړی دی چې د هواء ککړول تر ټولو زيات فساد دی.
امام قرطبي رحمه الله وايي: فيه مسألة واحدة وهو أنه سبحانه نهى عن كل فساد قل أو كثر بعد صلاح قل أو كثر، فهو على العموم على الصحيح من الأقوال. تفسير القرطبي (٧ /٢٢٦)
ژباړه:- په دې مبارک آيت کې يوه مسأله ده او هغه داده چې الله تعالی د هر ډول فساد څخه منع کړی ده هغه فساد لږ وي او که زيات ، نو آيت په عموم باندې حمل دی په صحيح قول سره.
ابوحيان الاندلسي وايي: دا نهی ده په ځمکه کې د فساد د واقع کولو څخه او د فساد ټولو انواعو ته شامل دی لکه د نفسونو فاسدول، د نسبونو فاسدول ، د مالونو فاسدول، د عقلونو فاسدول او د اديانو فاسدول.تفسير البحر المحيط(٤ /٢٥٤)
همدا راز الله تعالی فرمايلي دي: {كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ }البقرة: ٦٠
ترجمه:- (ووېل مونږ)خورئ! اوڅښئ! له (خاصې)روزی دالله څخه(بې له واسطې داسبابو)او مه تېرېږئ له حده په ځمکه کې حال داچې وراني کوونکي اوسئ تاسې (په خپل فساد اچولو سره)
ابن عادل رحمه الله ددې أيت په تفسير کې ليکي: (ولا تسعوا في إفسادِ مصالح الغير ، فإنَّ ذلك في الحقيقة سعي منكم في إفساد مصالح أنفسكم ). اللباب في علوم الكتاب (١٠ /٥٤٥)
ژباړه:-کوشش مه کوئ د بل چا د مصالحو د فاسدولو لپاره، بيشکه دا کار په حقيقت کې کوښښ دی ستاسو له خوا نه د فاسدولو د ستاسو د مصالحو .

هواء په مختلفو وسیلو سره ککړیږي لکه د زهرجنو کیمیاوي موادو استعمال، په کورونو او کارخانو کې د ډېرو سکرو سوزل، د مستعملو نفطو سوزل، د زړو او له کاره لویدلو نقلیه وسایطو لوګي، دبې کیفیته تیلو څخه استفاده کول، د پلاستیکونو سوزل ، د ځنکلونو سوزل، د ضرري غازاتو څخه استفاده کول.چې دا ټول هوا ککړوي او د ککړې هوا څخه انسانان، حیوانات، حشرات او نورو ژوندي ژوي متضرر کیږي.

**د ککړې هواء زیانونه:**

ککړه هواء زیات زیانونه لري چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

د هوا ککړتیا په طب لحاظ سره د بیلا بیلو مرضونو سبب ګرځي، لکه تنفس مریضي ، قلبي عروقي مریضي ، د جنین په وده کې کمزورتیا ، تنفسي دستګاه عفونت ، ټوخی او سینه بغل ، د سترګو او ستوني مریضي ، د ګردو مرضونه، کم خوني ، د وینې لوړ فشار ، سرطانونه، رواني، روحي او عصبي مرضونه، جسمي بېماریو زیاتوالی، ژر ژر مړینه خصوصا د ماشومانو ، بوډاګانو او دزړه د مرض لرونکو افرادو مړینه.

د هیواد د اوسیدونکو او اتباعو څخه په جدي توګه غوښتنه کیږي چې د هواء د ککړتیا څخه ځانونه وساتي او مخه یې ونیسي.

او بالفرض که چیرې کوم کور د خرابو سوند توکو ته ضرورت وي او ضرر یې عام ولس ته رسیږي ؛ نظام کولای شي چې ددغه شخص مخه ونیسي ځکه چې ( يُتَحَمَّلُ الضَّرَرُ الْخَاصُّ ؛ لِأَجْلِ دَفْعِ ضَرَرِ الْعَامِّ ). غمز عيون البصائر في شرح الأشباه والنظائر (٢ /٩٣) تحمل کولای به شي خاص ضرر د عام ضرر دددفع په خاطر.

هواء د الله تعالی هغه نعمت دی چې ټول خلک په کې شریک دي او هیڅوک نشي کولای چې له بل چا څخه هواء بنده کړي.

## ب: د ځمکې لاندې اوبو د تقویت په موخه جذبي څاګانې ویستل:

اوبه هغه الهي ډالۍ ده چې د نصوصو له مخې ژوند پرې روان دی، د ژوند د مخ ته وړلو لپاره لومړنۍ اړتیا ده که څه هم دا مخلوقات لکه نباتات، حیوانات،انسانان او که نور دي دا ټول ساکښان اوبو ته اړتیا لري.

اوبه د ژوند لپاره تر ټولو ضروري عنصر دی او ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند په اوبو پورې تړلی دی.

قرآن کریم د اوبو د ضرروت او اهمیت په اړه فرمايي:{وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ}الانبياء: (٣٠)

ترجمه:- او مونږ له اوبو څخه هر ژوندی شی پیداکړی دی آیا نو دوی ایمان نه راوړئ؟

امام ماوردي وايي:(حفظ حياة كل شيء حي بالماء).النكت والعيون (٣/ ٤٤٤)

ترجمه:- حفاظت د ژوند د هرشي په اوبو پورې تړلی دی.

په یو روایت کې راځي:(كُلّ شيء خلق مِنْ ماء). تفسير ابن أبي حاتم (٩/ ٣٢٠)ترجمه: هر شی له اوبو پیدا شوی دی.

کله چې اورښت او واورې وورېږي، یوه اندازه یې د ځمکې پر مخ بهېږي، یوه اندازه یې د تبخیرد عملیې له لارې فضاء ته پورته کیږي اود وریځو د جوړېدو لامل کېږي او یو مقدار یې په ځمکه کې جذبیږي چې همدا اوبه د ځمکې لاندې د اوبو په نوم يادېږي.

څومره چې د ځمکې پر مخ بهیدونکې اوبه اهمیت لري په همده اندازه د ځمکې لاندې اوبه هم ځانګړي ارزښت لري ، ملتونه په دې هڅه کې دي چې د ځمکې پر مخ بهیدونکو اوبو مخه ډب کړي او د ځمکې لاندې اوبو زېرمې لا تقویه کړي.

افغانستان چې ۷۵ میلیارده متر معکب کلنۍ اوبه لري چې ۵۷ میلیارده متر مکعب یې سطحي اوبه او ۱۸ میلیارده متر مکعب یې د ځمکې لاندې اوبه دي چې دځمکې لاندې اوبو اندازه ډېره لږه ده اود ځمکې لاندې اوبه د ګوابښ تر کچې رسېدلې دي چې دا ګوابښ په کابل ښار او شاو خوا کې زیات جدي دی. د متخصصینو د وړاندوینې د مخې که چیرې په کابل او شاوخوا علاقو کې د ځمکې

لاندې اوبه تقویه نشي؛ پنځه کاله وروسته به کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو په نوم هېڅ ونه لرو او باید چې مخکې له مخکې یې غم وخوړل شي.
افغانستان چې د اقلیمي بدلونونو څخه شپږم اغېزمن هېواد دی او د ځمکې دلاندې اوبو کچه نوره هم په ښکته لاړه اود وچکالۍ له امله په ځینو ولایتونو کې خلک کډ والی ته مجبوره شوي دي.
دنړۍ د تودوخې درجې د لوړېدلو امله او په افغانستان کې د کمو ورښتونو او د کمو واورو د ورېدو له امله او په ځینو ولایتونو کې د ځمکې د لاندې اوبو څخه په غیر مسلکي توګه د خلکو خودسرانه استفاده کول چې د ملریزې برښنا په وسیله د ځمکې لاندې اوبه راباسي دا ټول ددې باعث شو، چې په ټول افغانستان کې د ځمکې لاندې اوبو کچه نوره هم په ښکته لاړه شي او دا ناوړه حالت ورځ تربلې زیاتیږي.
دافغانسان اسلامي امارت او ولس په ګډه مسئولیت لري ؛ ترڅو د ځمکې لاندې اوبه تقویه کړي .
د ددولت او نظام مسئولیت دادی چې د ځمکې لاندې د اوبو د تقویت کولو لپاره د اوبو ډیمونه جوړ کړي، کانالونه وباسي، چک ډیمونه جوړ کړي چې لله الحمد دافغانستان اسلامي امارت خپل مسئولیت ته په ډیر ښه شان متوجه دی او ددې کار لپاره یې د قوش تیپې کانال پیل کړی دی او په مختلفو ولایتونو کې یې د ډیمونو او چک ډیمونو په جوړولو کار پیل کړی دی او امید دی چې د اوبو د زیرمه کولو او مدیریت کولو د ډیرو لاسته راوړنو شاهد یو.
بل د رعیت او ولس مسئولیت دی، ولس هم لکه ددولت په څیر د ځمکې لاندې اوبو تقویه کولو درونډ مسئولیت په غاړه لري.
ولس او رعیت د ځمکې لاندې اوبه د تقویه کولو په موخه د درې کارونو عملي کول په غاړه لري:
**الف: د جذبي څاګانو ویستل:**
د حادثاتو او واقعاتو لپاره تدبیر نیول یو شرعي کار دی لکه یوسف علیه السلام چې د راتلونکې وچکالۍ لپاره خپل تدبیر د مصر عزیز ته وړاندې کړ او ټول مصریان یې د قحطۍ او ولږې څخه وژغورل.
دځمکې لاندې اوبه په ښکته تلل الله تعالی د یو عذاب په شکل سره ذکر کړي دي او فرمایي:(قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْراً فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ ). الملك: (۳۰)
ترجمه:- ووایه (ای محمده دغو منکرانو ته) آیا وینئ خبر راکړئ تاسې ماته که چېرې ګهېځ وګرځي اوبه ستاسې ښکته( په ځمکه کې ننوتلې ورکې)؛ نو څوک دی هغه چې راولي تاسې ته اوبه رواني شفافې پاکې صافې؟.
مونږ او تاسې ټول مسئولیت لرو چې د ځمکې لاندې اوبو د تقویه کولو لپاره په کورونو کې ، په شاوخوا دښتو کې جذبي څاګانې وباسو ترڅو اوبه عبث ونه بهیږي او په ځمکه کې جذب شي.
جذبي څاګانې دوه ډوله دي یو ډول هغه څاګانې دي چې د کور په انګړ کې باید دوه متره ژوره څاه وکندل شي او بیا په کې جغل واچول شي او سرېې په جالۍ سره وپوښل شي او په کور کې چې څومره اوبه مصرفیږي د مصرف څخه وروسته دغه باید دغه اوبه جذبي څاه ته ولویږي او په همدې طریقه استعمال شوی اوبه په ځمکه کې جذب شي او بې ځایه بیرون ویالو ته ونه بهیږي.
دوهم ډول جذبي څاګانې هغه دي چې په کور یا په بیروني دښتو کې کیندل کیږي او چې کله په ژمي کې واورې او بارانونه ووریږي اوبه او واورې په دغو څاګانو کې جمع کیږي او په ځمکه کې جذبیږي چې په دغو لارو مونږ کولای شو د ځمکې لاندې اوبه تقویه کړو.
افغانستان تقریباً (۴۰) ملیونه نفوس لري، که چیرې حد اوسط سره لس ملیونه خلک لس ملیونه جذبي څاګانې په مرکز او ولایاتو کې وباسي نو مونږ به په ټول افغانستان کې لس ملیونه جذبي څاګانې ولرو چې په دې سره به د ځمکې لاندې اوبه تقویه شي او په راتلونکې کې به د اوبو د کمبود او وچکالۍ ستونزه ونلرو او یا به یې په کمه اندازه ولرو.

د ځمكې لاندې اوبو تقويه کول د خيرکار دی او د اسلام دين د اوبو په حفاظت باندې ټينګار کړی دی؛ ترڅو د ځمکې لاندې اوبو کچه کمه نشي.
د ځمکې لاندې اوبو تقويه کول په حقيقت کې د ځمکې آبادول دي او خلکو ته نفع او خير رسول دي چې دواړه شرعي مقصدونه دي. الله جل جلاله فرمايلي دي:(هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا).هود:(٦١)
ترجمه:- همدغه(الله)پيدا کړي يئ تاسې له ځمکې(چې آدم يا ماده د نطفې ده)او اوړده عمرونه يې درکړي دي تاسې ته په دغې (ځمکې ) کې
**توضيح:** الله تعالی فرمايلي دي چې الله تعالی هغه ذات دی چې تاسې يې له ځمکې څخه پيداکړي ياست او بيايې تاسې ګرځولي ياست آبادوونکي د ځمکې.
امام قرطبي ليکلي دي: ( المعنى ألهمكم عمارتها من الحرث والغرس وحفر الأنهار وغيرها ).تفسير القرطبي (٩ /٥٦)
ژباړه:- معنا داده چې (الله تعالی) تاسو ته ښودلي دي دځمکې آبادول لکه کرل، ونې کينول او دنهرونو ويستل او داسې نور.
بل داچې د څاګانو ويستل ددې لپاره چې د ځمکې لاندې اوبه تقويه شي ؛ د خير او نفعې کار دی او الله تعالی هغه خلک ستايلي دي چې د نيکيو کارونه کوي. الله تعالی د مؤمنانو په صفت کې وايي: (أُوْلَئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ)المؤمنون: (٦١)
ترجمه:- دغه کسان ډېر تلوار (او رغبت) کوي په نېکيو (طاعاتو) کې، او دوی هغو (نېکيو) ته ړومبی کېدونکي دي(له نورو خلقو نه).
**توضيح:-** د ځمکې لاندې اوبو تقويه کول د خير په کار کې کونبښن کول دي چې د پورتنۍ مبارک آيت د لفظ د عموم په اعتبار سره جذبي ګانو ويستلو ته هم شامليږي.امام نيشابوري ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي: ( إنهم كانوا يسارعون في الخيرات واللفظ للعموم فيشمل فعل ما ينبغي وترك ما لا ينبغي) . تفسير النيسابوري (١/ ١٩٢)

**ب: اوبه د ککړتيا څخه ساتل:**

بل مسئوليت چې مونږ يې په غاړه لرو ، هغه اوبه له ککړتيا څخه ساتل دي.
ځينې خلک اوبو ته هر ډول ګندګي ور اچوي او ځينو خلکو خو د خپلو د بدرفونو خوله د اوبو ويالې ته يا سيند ته ويستلی وي او په دې سره اوبه ککړوي. اوبه ککړول لويه ګناه ده.
د اوبو د ککړول مختلف شکلونه دي، لکه اوبو ته دکور او کوڅو چټلې اچول، په اوبو کې پلستيکونه اچول، په کوڅو، واټونو ،د ويالوشاوخوا کې د کثافتونو اچول ،د تشنابونو او کنارآبونو اوبه او مواد عامو اوبو او نهرونو ته پريښودل ، د کنارابونو په څنګ کې د څا ګانو ويستل ، دفني کاناليزاسيونو نه شتون.
ټول خلک بلکې ټول ژوندي ژوي په اوبو کې حق لري که چيرې اوبه ککړې او چټلې شي ګويا دټولو خلکو په حق تعرض شوی دی.په حديث شريف کې راځي:(المسلمون شركاء في ثلاث في الماء والكلأ والنار). سنن أبي داود (٢/ ٣٠٠)
ترجمه:- مسلمانان شريک دي په درې شيانو کې په اوبو کې، په ګياه کې او په اورکې.
په اسلام کې داوبو په پاکو ساتلو زيات تأکيد شوی دی او په اوبو کې دمتيازو کولو څخه ممانعت راغلی دی. عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: لاَ يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِى الْمَاءِ الدَّائِمِ). صحيح مسلم (١/ ١٦٢)
ژباړه:- د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل هيڅکله دې يو دستاسې څخه په ولاړو اوبو کې متيازې نه کوي.
ومذهب السلف والخلف أنه لا فرق بين النهي عن البول فيه وبين صب بول فيه ، ولا بين البول والغائط ، وسائر النجاسات كلها . المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم (١/ ٤٩١)

ترجمه:- د سلفو او خلفو ټولو علماوو په مذهب کې په دې نهې کې هيڅ فرق نشته چې متيازې په کې وشي يا په کې متيازې واچول شي او په دې کې هم فرق نشته چې متيازې په کې وشي يا غټ بول په کې وشي او ټول نجاستونه .

امام قرطبي وايي: دا نهې په تحريم حمل ده سدا للذريعة ځکه چې دا کار د اوبو د چټلولو سبب ګرځي.

د اوبو چټلول ناوړه کړنه ده او چټلې اوبه د مختلفو مرضونو سبب ګرځي لکه کولورا، لويه تبه، اسهالات، د ګردو او د کولمو مختلف مرضونه، تور زيړی او د سږو مرضونه.

**ج: د اوبو په لګولو کې له اسراف څخه ډډه کول:**

د اسلام په سپيڅلي دين کې د اوبو بې ځايه مسرفول حرام کړی دی. د قرآن کريم په آياتونوکې او د پيغمبرعليه السلام په بې شميره آحاديثو کې په ډول ډول تعبيرونو سره عموما په هرکار کې اسراف کول غندلي دي او ورڅخه يي منع کړی ده. الله جل جلاله فرمايلي دي: {وَكُلُوا وَشْرَبُوا وَلاَ تُسْرِفُوا اِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ} الاعراف: (۳۱)

ژباړه:- وخورئ، وڅښئ، خو اسراف مه کوئ، ځکه الله تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي.

په يو حديث شريف کې داسې راځي: ( عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ، وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ: «مَا هَذَا السَّرَفُ» فَقَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ إِسْرَافٌ، قَالَ: «نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهَرٍ جَارٍ» سنن ابن ماجه

ژباړه:- له حضرت عبدالله ابن عمرو رضی الله څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پر سعد رضی الله عنه باندي تيريده په داسی حالت کی چې سعدرضی الله عنه اودس کاوه رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:دا څومره اسراف کوی؟ سعد رضی الله عنه ورته وويل: آيا په اودس کې هم اسراف شته؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هو! که څه هم ته د ويالی پر غاړه ای بيا به هم اسراف په اوبو کي نکوې.

په دې حديث شريف کې وينو چې داسلام مبارک دين حتی په اودس کې هم له حاجت څخه د زياتو اوبو مصرفول او هغه په بې انصافی سره ضائع کولو څخه منع کړی ده.